مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر محب زغم

۲۰۲۳/۰۲/۱۳

کوترى او چوغکه

سپی د ونې سيوري ته ويده وه.وړوکی زوی يې د چوغکې د بچي ننداره کوله. د چوغکې بچی په هوا کې دې خوا ها خوا گرځېده. دا دوهمه اونۍ وه چې هغه الوتل زده کړي وو.
د چوغکې بچی راغی او د کوچني کوتري مخې ته پر ډبره باندې کېناست. کوتري ته يې وويل: ښنگه وه زما الوتنه ښنگه وه؟
کوتري وويل: ډېره ښه وه. کاشکې د ما هم زده واى.
د چوغکې بچي وويل: ريښتيا ته که الوتلى نشې نو گرځېدلى خو شې، خو ته هېڅ چېرې نه ځې. ټوله ورځ دې د مور په خوا کې تېروې.
کوتري ځواب ورکړ: زه خو لا کوچنى يم. مور مې وايي چې لرې مه ځه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د چوغکې بچی والوته او ویې ویل: ما وګوره زه لا د دریو میاشتو یم خو هر چېرته تلای شم. ان تر هغه ځنګله پورې یوازې ځم. ته نه پوهېږې چې ځنګل څومره ښکلی دی. ته به تر څوپورې د مور په بند کې اوسې او هغه به درته لګیا وې چې دا مه کوه، هلته مه ځه. وه لیونیه ازاد اوسه ازاد.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کوترۍ په چورت کې ډوب شو. د ځنګله په فکر کې و چې هلته به څه شی وي. یو وار به یې ځان سره ویل چې راځه نن د ځنګله سیل وکړه. بیا به یې ویل ((نه مور مې راته ویلي دي چې لرې مه ځه)) د چوغکې خبره یې په غوږو کې انګازې وکړې چې ویل یې ((ازاد اوسه ازاد)) خپلې مور ته یې وکتل. هغه لا ویده وه.
اخر کې سوکه سوکه چې مور یې راویښه نشي د ځنګله خوا ته روان شو. ځان سره یې وویل لاړ به شم که څه خبره وه نو بېرته به راشم.

د چوغکې بچي له لرې هغه ولیداو ځان یې وروروساوه. هغه پاس الوته او کوترۍ لاندې روان و. دکوچني کوتري د پښو لپاره دا لاره ډېره اوږده وه. هغه ژر ژر نه شو تلای. د چوغکې بچی به په هوا کې وړاندې لاړ او بېرته به راوګرځېد چې کوتري سره جوړه شي.

مازدیګر دواړه ځنګله ته ورسېدل. ځنګل ګڼ و. ونې پکې ډېرې وې. هغوی همداسې وړاندې تلل. کوچني کوتري تر اوسه پورې دومره لوړې ونې نه وې لیدلې. هغه پورته د ونو سر ته کتل چې پاس په اسمان کې یې یو مارغه ولېد.
د چوغکې بچي ته یې وویل: اې ! پورته وګوره، دا څه شی دی څومره لوړ الوزي.
چوغکه چې پوره وکتل چیغه یې کړه: هله، ځان پټ که چې ودې نه خوري. دا خو باز دی باز.
دې سره د چوغکې بچی د یوې ونې په سوړه کې ننوت. کوتري دې خوا ها خوا منډې کړې خو داسې ځای یې تر سترګو نه شو چې ځان پکې پټ کړي. هغه وېرېدلی و، زړه یې ټکان کاوه. د یوې ونې لاندې کېناست او خپل سر یې تر اوږو لاندې پټ کړ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځو شېبې وروسته يې کرار کرار، وېرېدلی پورته وکتل. د باز په منګولو کې يو کوچنی سوی ښکارېده. باز وار په وار لرې کېده او کله چې ډېر لرې شو، کوترې د چوغکې پر بچي نارې وکړې: ملګريه ! وه ملګريه چېرته يې؟ ځواب ورنه کړ.

کوترې شاوخوا ته وکتل. چارچاپېره ونې وې. هغه چې هر څه وکتل د خپلو پښو نښې يې ونه موندلې. پر ځمکې باندې د ونو رژېدلې پاڼې پرتې وې. هغه نه پوهېده چې له کوم لورې راغلی و. په ژړا يې پيل وکړ. وای مورې، وای مورې چيغې يې وهلې. هم يې ژړل او هم يې هرې خوا ته منډې وهلې خو د وتلو لاره يې ونه مونده. په ژړا يې ځان ستړی کړ.اخر يې ځان سره وويل: اوس خو راپېښنه ده بايد يوې خوا ته لاړ شم کېدای شي چې لاره پيدا کړم.

هغه ښه شېبه مزل وکړ. بيا ښې لاس ته وګرځېد او همداسې روان شو.

ځمکې ته يې کتل او همداسې مخکې ته چې يو درون غږ يې واورېد. پورته يې وکتل که ګورې چې دوه پړانګان د ده خوا ته روان دي. يو يې په غرمبهارو وويل: هی هی څه تنکی ښکار مو ومونډځومره خوندوره غوښه به يې وي.

کوچنی کوترې سخت وډار شو، په خوله کې يې نارې وچې شوې، په زارۍ يې وويل: کاکا خير دی ما مه خوره، پرېږده چې خپل کور ته لاړ شم.

پړانګ وويل: ستا قسمت ښه دی چې موږ اوس ماړه يو که نه خو د خبرو وار به مو هم نه درکاوه.

بل پړانګ وويل: راځه چې ځان سره يې بوزو، سبا به يې وخورو.

بل يې ارږمی وايست او ويې وويل: څه يې کوې دی خو هسې هم لرې نشي تلای سبا به يې ونيسو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هغوی پخپله مخه لاړل.هوا وار په وار تیاره کېده. د ونو له منځه رنګ رنګ اوازونه راتلل.د کوترې په زړه کې وېره زیاتېدله. ځان سره یې ویل کاشکې مې د مور خبره منلې وای. د هغه نس وږی و. پښو یې سستي کوله خو دی مجبور و چې مزل وکړي. اوس نو هغه نه پوهېده چې کومه خوا روان دی. ټولې لارې یو شان وې.
کوترې تر هغو پورې لاره ووهله چې هره خوا تپه تیاره شوه. هغه نا امېده په یوه ځای کې پرېوت.یو وخت یې دوو سترګو ته پام شو چې په تیاره کې لکه څراغ ځلېدې. اول وډار شو خو څو شیبې وروسته د رڼو سترګو خاوند ورباندې غږ وکړ: راځه مه ډارېږه.کوترې ورو ورو د سترګو خوا ته وخوځېده.
چې ښه ورنژدې شو په وېریدلي غږ یې وپوښتل: اې ته څوک یې؟ چوغکه خو به نه یې؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

د رنيو سترګو والا ځواب ورکړ: نه کوتريه، زه کونګ يم. لکه چې لاره درنه ورکه ده؟
کوتري وويل : ته ما ليدای شې؟
کونګ وويل: هو زه په تياره کې هرڅه وينم.
کوتري وويل: ما خو به نه خورې؟
کونګ وويل: نه زه تا نه خورم. زما خوراک مږي او موږکان دي.
کوترى خوشاله شو او ويې ويل: چې داسي ده نوته ما ته لاره راوښيه چې له ځنګله ووځم. بيا به زه خپلې مور ته ووايم چې موږکان درته ونيسي
کونګ وويل: زه به همداسي لاره دروښييم خو اوس لا يو، نيم داړونکي ځناور په ځنګل کې ګرځي، ته سياله وکړه چې شپه له نيمې واوښته بيا به دې بوزم.
کوترى کرار ځملاست. نيمه شپه کونګ ورباندې غږ وکړ: جګ شه چې بيا ناوخته کيږي.
دواړه روان شول. کونګ له يوې ونې الوته او پر بلې کېناسته او کوترى د هغه له سترګو پوهېده چې کومه خوا لاړ شي. ټوله شپه يې مزل وکړ. سهار وختي له ځنګله ووتل. کوتري له کونګ څخه مننه وکړه او د خپل کور خوا ته رهي شو.
لمر راختلى و چې کوترى کور ته ورسېد. که ګوري چې د اسويلو او ژړا غږ راځي. مور يې وه چې په سرو سترګو يې ژړل. کوتري په خوشالۍ سره نارې کړې: مورې وه مورې!

مور يې په منډو ځان ورورساوه. هغه يې په غيږ کې ونيو او ويې ويل:
شکر چې ته ژوندى يې. شکر چې باز ونه خوړې. ته د باز له منګولو څنګه وتښتېدې؟
کوتري وپوښتل : د باز له منګولو؟
مور يې وويل: هو، پرون چې زه وينه شوم ته نه وې، له هرچا مې پوښتنه وکړه خو ته چا نه وې لېدلى. اخر د چوغکي بچي را ته وويل چې هغه خو مې د باز په منګولو کې وليد چې پورته يې ووړ.
کوچني کوتري خپلې مور ته ټوله کيسه وکړه او ژمنه يې وکړه چې نور به د مور خبرې مني.اوس چې هرچېرته کوتري ولاړ وي او چوغکه ورنژدې شي نو کوتري ورباندې ځغلي او ورته وايي چې: ځه دروغجنه،چې بيا مې غلط نه کړې.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ